# سیف (SAFE) پروګرام

## د زده کوونکي او کورنۍ پیاوړتیا



د الک ګروف تعلیمي حوزه
د سیف پروګرام مرکزونه

ویلی های سکول (د ویلی عالي لیسه)
6300 Ehrhardt Ave
Sacramento Ca 95823
916 681-7577

دیوېډ ریس ابتدائیه ښوونځی
7600Lindale Dr.
Sacramento Ca 95828
916 392-9081

د زده کوونکو او کورنۍ پیاوړتیا پروګرام
د پروګرام متخصص/ د بې سرپناه کسانو د اړیکو مسوول
تامي سیلویرا
Tsilvera@egusd.net
(916)-681-7577

د کورنیو او ټولنې د اړیکو/ارتباطاتو ریاست
رئیس
لیسیت لیمې
(916) 831-7577

د سیف پروګرام ویب پاڼه:
www.egusd.net/StudentsFamilies/ResourcesSupports/Student-and-Family-Empowerment-Centers/index.html



## منابع

**د سکرامنتو د منابعو فهرست (یا دایرکتوري) 211**
**د استوګنې لپاره منابع:**
(916) 498 -1000
**د تلیفون وړیا شمیره:** 1(800) 500 -4931
TTY/TTD (916) 446 -1434
https://www.211sacramento.org/211/

**د کلیفورنیا د ځوانانو لپاره د بحران کرښه:**
1-(800) 843-5200
https://calyouth.org/cycl/

**د ځان وژنې د مخنیوي ملي اضطراري کرښه**
1-(800) 273-8255

**د ساکرامنټو د رواني روغتیا د لاسرسي ټیم**
(916) 875-1055 - (888) 881-4481

**د لا فامیلیا مشورتي مرکز**
(916) 452 -3601
https://lafcc.org/

**د ایلک ګرو فوډ بانک**
(916) 685 -8453
**د ساکرامنټو فوډ بانک**
(916) 456 -1980
https://sacramentofoodbank.org/

**ویند یوت شلټر**
(916) 504-3313
https://windyouthservices.org

**د کرایه کوونکو د مرستې کرښه**
(916) 389-7877

# سیف (SAFE) پروګرام

د زده کوونکي او کورنۍ پیاوړتیا

## د الک ګروف د تعلیمي حوزې لید

زموږ لید دا دی چې په الک ګروف تعلیمي حوزه کې هر زده‌کوونکی په هر ټولګي، هره ورځ، او په هره موضوع کې د کالج، مسلک او بریالي ژوند لپاره چمتو شي.

## ماموریت

د زده‌کوونکو او کورنیو د پیاوړتیا د پروګرام ماموریت دا دی چې د زده‌کوونکو، د هغوی د کورنیو، او د ټولنې له شریکانو سره د همکارۍ له لارې، د زده‌کوونکو د لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره د زده‌کړې پر وړاندې موجود خنډونه له منځه یوسي.

## هدف

زموږ هدف دا دی چې د الک ګروف د تعلیمي حوزې د زده‌کوونکو او د هغوی د کورنیو لپاره تعلیمي، روغتیایي او ټولنیزو-عاطفي پایلو ته وده ورکړو. موږ دا کار د کیس د مدیریت له لارې ترسره کوو، ترڅو هغو زده‌کوونکو او کورنیو ته خدمت وکړو چې له اقتصادي ستونزو، بې‌سرپناهۍ، د خوړو نه‌شتوالي، روغتیایي، د غاښونو، د لیدو، رواني روغتیایي اندېښنو، او د سرچینو د کمښت له ستونزو سره مخ دي.

د پروګرام درې اساسي برخې شتون لري:

- ♦ **د بې‌سرپناه زده‌کړې پروګرام**
  دا پروګرام د نوم‌لیکنې لپاره ملاتړ، ټرانسپورټ، او ښوونیزو فعالیتونو او نورو ښوونیزو پروګرامونو ته د لاسرسي اسانتیاوې برابروي.
- ♦ **د عمومي خدماتو لپاره راجع کول**
  دا خدمات د خوړو، جامو، روغتیایي بیمې، مشورې، او نورو اړینو سرچینو سره د نښلولو په موخه کارول کېږي.
- ♦ **د ټولنې سرچینې او مشارکت**
  د ټولنې مشارکت د سیف(SAFE)پروګرام یوه حیاتي برخه ده، ځکه دا ګډون هغه مهمې سرچینې برابروي چې د همکارۍ پرته به برابرول ناشوني دي.

## څه موږ ځانګړي کوي؟

- د کیس مدیریت له تاوده هرکلي او د ټولنې له ملاتړ سره
- داسې خدمتونه چې د ماشوم او کورنۍ ځانګړو او هر اړخیزو اړتیاوو ته ځواب وایي
- موږ د الک ګروف د تعلیمي حوزې په دوو ښوونځیو کې د لاسرسي وړ یو

## زموږ فعالیتونه څه دي؟

د سیف پروګرام لاندې سرچینې او ملاتړ چمتو کولی شي:

- په ښوونځي کې د وړ زده کوونکو په نوم لیکنه کې مرسته
- بکسونه او د ښوونځي تجهیزات
- ښوونځي ته د تګ او راتګ لپاره د بس پاسونه او د ټرانسپورټ ملاتړ
- د غاښونو او سترګو د خدماتو لپاره راجع کول
- د کور او سرپناه خدماتو لپاره راجع کول

## زموږ خدماتو ته د لاسرسي څرنګوالی

کورنۍ او زده کوونکي کولی شي د سیف پروګرام هغو ځایونو ته زنګ ووهي چې د دې بروشر کې ذکر شوي دي. کارکوونکي کولی شي د راجع کولو فورمه ډکه کړي، بریښنالیک واستوي، یا مستقیم له سیف پروګرام سره اړیکه ونیسي.






## د بې‌سرپناه زده‌کړه

*د مک‌کیني-وینتو قانون بې‌سرپناهي داسې تعریفوي: هغه کسان چې د شپې لپاره ثابت، منظم او مناسب استوګنځای ونه لري. دا حالت د بې‌وزلۍ، اقتصادي ستونزو یا د ژوند د سختو شرایطو له امله رامنځته کېږي. په دې تعریف کې د ښوونځي عمر لرونکي ماشومان هم شامل دي، که د هغوی د شپې استوګنځای داسې وي*

- له بل کورنۍ سره ګډ ژوند کول
- په پناهځای (شیلټر) یا لنډمهاله استوګنځای کې اوسېدل
- په موقتي توګه په هوټل یا مېلمه‌خونه کې اوسېدل
- په موټر، پارک، د خیمو په کمپ، پرېښودل شوې ودانۍ یا نورو نامناسبو ځایونو کې اوسېدل

## د زده کوونکي حقونه

- سمدستي نوم‌لیکنه
- په اصلي ښوونځي/فیډر ښوونځي کې د پاتې کېدو حقونه
- د ټرانسپورټ ملاتړ
- د وړیا او کم‌لګښته ښوونیزو خوړو پروګرامونو ته لاسرسی
- د بې‌سرپناه زده کوونکو د اړیکو د همغږي ملاتړ
- د وړیا او مناسبې عامه زده‌کړې (FAPE)پر وړاندې د ټولو خنډونو لرې کول
- د نوم‌لیکنې او اضافي ښوونیزو فعالیتونو کې برخه اخیستل

## نوم‌لیکنه پرته له هغو اسنادو چې عموماً غوښتل کېږي، لکه:

- د استوګنې تصدیق (د کور یا کرایې ترون)
- د زېږون تصدیق
- د واکسین کارت
- د پخواني ښوونځي ریکارډونه
- د قانوني سرپرستۍ اسناد